# کا شکي

کاشکي باران وای  چي په زلفو دی اورید مه صنم
یاخوږ نسیم وای  چي  په  مخ  دی  چلید مه  صنم
یا د شمشا د داونـی ډډ وای چي تری ږمونز جوړیدم
چي  په  کاکل دی  اړخ  په  اړخ  راتا وید مه  صنم
یا  هم  امیل  چی  تل  پروت  دی  په  غاړه کی وای
چی   دی  په  غاړه  کی  یخ  یخ  تل  لګید مه صنم
یا  په  سینه  کی  دی  تومبلی  پاولیکا نـی  وای
چی    هرقدم  کی  دی   هسی  شرنګید مه  صنم
یا  کاشکی  ستا  د  سینی  بڼ  کی  ملیار  وای «مل»
چی  د  انا ر داونـی  لاندی   په  خوب  تلمه  صنم
******

پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل»
کریفلد جرمنی «۲۰۱۵-۱-۱۰»